## له شفاهي ژباړن سره د کار کولو په اړه د متقاضیانو لپاره لارښووني

### د متقاضیانو لپاره لارښووني

زه غواړم د شفاهي ژباړن سره د کار کولو د څرنګوالي په اړه له تاسو سره خبرې وکړم. د شفاهي ژباړن رول دا دی تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې موږ په هر هغه څه باندې پوهېږو چې يو بل ته يې وايو. هر هغه څه به محرم پاتې شي، چې موږ يې په اړه خبرې کوو، په دې معنی چې زه او شفاهي ژباړن نشو کولای چې ستاسو له اجازې پرته، هغه خبرې نورو کسانو ته ولېږدوو چې نن ورځ مو وکړې. له دې څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې هر څه ژباړل شوي دي، زه او تاسو به له هرې جملې وروسته يو لنډ ځنډ کوو تر څو شفاهي ژباړن وکولای شي ژباړه وکړي. که چېرې له شفاهي ژباړن سره ستاسو د خبرو کولو پر مهال، زه اړتيا ولرم چې تاسو لنډ ځنډ وکړئ، نو خپل لاس به په داسې ډول پورته کړم. نن ورځ به موږ د ... په اړه خبرې وکړو (د ناستې د موخې په ګډون لکه، "... د خونديتوب د يوه حکم غوښتنه ترسره کول، له دې امله ډېره مهمه ده چې ټول هغه څه په هغه ډول واورم چې ويل کېږي، له هغې ډلې انځوريز يا له تاوتريخوالي ډک معلومات."). آيا تاسو له شفاهي ژباړن سره د کار کولو يا زموږ د نن ورځې د ناستې په اړه کومه پوښتنه لرئ؟

نورې پوښتنې له مرکې وروسته وکړئ تر څو د متقاضي د پوهېدو څخه ډاډ ترلاسه شي

### د پوښتنو بېلګه:

1. موږ د خونديتوب د يوه حکم په اړه خبرې وکړې. آيا تاسو کولای شئ تاسو ما ته تشريح کړئ چې د خونديتوب د حکم موخه څه ده؟
2. ما له تاسو سره د يو شمېر هغو غوراوېو په اړه خبرې وکړې چې تاسو يې لرئ. له تګ وړاندې، آيا تاسو کولای شئ ما ته د هغو غوراوېو په اړه ووايئ چې تاسو يې بايد په اړه پرېکړه وکړئ؟
3. زموږ د راتلونکي ناستې لپاره، ما له تاسو څخه وغوښتل چې يو شمېر اسناد له ځان سره راوړئ، آيا تاسو کولای شئ ما ته ووايئ چې تاسو بايد کوم اسناد له ځان سره راوړئ؟

### لارښووني:

د شفاهي ژباړن د ای ډي شمېره وليکئ تر څو د هر ډول ستونزې د رامنځته کېدو په صورت کې، د هغې په اړه راپور ورکړئ يا يې تعقيب کړئ. يا که چېرې په حضوري ډول وي، د هغوی د نوم پر بنسټ تعقيب ترسره کړئ.

د کره والي او يا د شفاهي ژباړن لخوا د خلاصه کولو/اضافي کولو يا مداخلې د احتمال د کمولو لپاره په مستقيم ډول خبرې کول مهم دي.

په ياد ولرئ چې کيدای شي يوه ژباړل شوې ناسته د يوې نا ژباړل شوې ناستې په پرتله دوه برابره وخت ونيسي (صبر ولرئ).

د شفاهي ژباړن لخوا خلاصه کول په ګوته کوي چې ستاسو شفاهي ژباړن ټول موارد نه ژباړي. که چېرې ستاسو متقاضي د يوې دقيقې لپاره خبرې کوي او شفاهي ژباړن يوازې د 10-15 ثانيو لپاره خبرې کوي، په دې صورت کې، تاسو يا متقاضي مو د خبرو يوه برخه له لاسه ورکوي.

This project was supported by Grant No. 15JOVW-21-GK-02218-MUMU and the translation of the material is supported by Grant No. 15JOVW-23-GK-05125-MUMU awarded by the Office on Violence Against Women, U.S. Department of Justice. The opinions, findings, conclusions, and recommendations expressed in this publication/program/exhibition are those of the author(s) and do not necessarily reflect the views of the Department of Justice, Office on Violence Against Women.

# له شفاهي ژباړن سره د کار کولو په اړه د متقاضیانو لپاره لارښوونې

که چېرې ستاسو متقاضي له یو څو کلمو سره ځواب ورکوي او شفاهي ژباړن د یو څو جملو سره ځواب ورکوي، په دې صورت کې ستاسو شفاهي ژباړن داسې معلومات یا جزئیات وړاندې کوي چې ستاسو د متقاضي لخوا ویل شوي نه دي.

په راتلونکي کې د اړتیا لپاره، په شرایطو برابرو شفاهي ژباړنو سوابق له خان سره وساتئ.

**د شفاهي ژباړې غوښتنه (باید د بل شفاهي ژباړن لخوا ترسره شي)**

ما غوښتل له تاسو سره د شفاهي ژباړن سره د کار په اړه مشوره وکړم.  آیا کولای شئ ما ته ووایئ چې له شفاهي ژباړن سره د کار کولو په اړه مو څه احساس درلود؟ (تعقیبي پوښتنې: آیا تاسو له شفاهي ژباړن سره د راحتۍ احساس کاوه؟ آیا تاسو داسې احساس کوئ چې شفاهي ژباړن خپله دنده په ښه ډول ترسره کړې ده؟ آیا شفاهي ژباړن کوم داسې څه وویل چې ستاسو د ناراحتۍ لامل شول؟

This project was supported by Grant No. 15JOVW-21-GK-02218-MUMU and the translation of the material is supported by Grant No. 15JOVW-23-GK-05125-MUMU awarded by the Office on Violence Against Women, U.S. Department of Justice. The opinions, findings, conclusions, and recommendations expressed in this publication/program/exhibition are those of the author(s) and do not necessarily reflect the views of the Department of Justice, Office on Violence Against Women.